د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو
ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

---

۱۳/ جمادی الاولیٰ/۱۴۴۶ هـ، ق موافق د ۲۵/ عقرب/۱۴۰۳هـ، ش

# د مسلمانانو د کمزورۍ او ناکامۍ اسباب

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدُ للهِ ربِّ العالمينَ، والعاقبةُ للمتَّقينَ، ولا عُدوانَ إلا على الظالمينَ، أَحمدُ رَبي حَمْدَ الشَّاكرينَ، وَأَشكُرُهُ شُكْرَ الحامِدِينَ، وَأَشْهَدُ أَنْ لا إِلهَ إِلا اللهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ؛ إِلهُ الأولينَ والآخِرِينَ، وأَشهدُ أَنَّ نبيَّنا محمداً عَبْدُ اللهِ ورسولُه خَاتَمُ النبيينَ، وإِمَامُ المُرْسَلِينَ وَصَلَّى اللهُ وَسَلَّمَ عليهِ وعَلَى آلِهِ الطيبينَ؛ وأَصحابِهِ الغُرِّ المحجلين ومَنْ تَبِعَهُم بِإِحْسانٍ إلى يومِ الدِّينِ، أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى: {وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَلاَ تَنَازَعُواْ فَتَفْشَلُواْ وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُواْ إِنَّ اللّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ}الانفال: (۴۶)

و قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « الْمُؤْمِنُ الْقَوِىُّ خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللَّهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ ». صحیح مسلم (۸/ ۵۶)

**درنو او عزتمنو مسلمانانو!**

**السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**

مسلمانانو د اسلام د ابتداء څخه د بغداد تر سقوط (٦٥٦ هـ) پورې ستر قوت ، هیبت او شوکت درلود او داسلام د عدالت سیورې پر نړۍ خپور ؤ، د مسلمانانو دکامیابیو ، قوت ، هیبت او شوکت راز په دې کې وه چې هغوی په الله تعالی کلک ایمان درلودلو او پر رسول الله صلی الله علیه وسلم د ایمان درلودلو ترڅنګ د هغه داقوالو، افعالو او خصلتونو کلکه پیروي کوله او په سیاسي او نظامي چارو کې به یې د امیر اطاعت کولو .

## د مسلمانانو د کمزورۍ او ناکامۍ اسباب ډیر دي، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

### ۱- د عقیدې او د عملونو کمزوري.

نن سبا د مسلمانانو عقیدې کمزرې شوي دي او مسمانان عزت او قوت په مادیاتو او دکفارو په دوستۍ کې لټوي ؛ حال دادی چې عزت له الله تعالی سره او د مؤمنانو په ملګرتوب کې دی. الله جل جلاله فرمايي: څوک چې د مخلوق او دکفارو په لاس کې عزت او قوت ولټوي، بیشکه چې د هغه عقیده کمزورې شوی ده او دچا عقیده چې کمزورې شي هغه به په دنیا او آخرت کې کمزورۍ او ناکامه وي؛ بلکې کامیابي او عزت د الله تعالی سره دی او د مؤمنانو په ملګرتیا کې دی. الله تعالی دا حقیقت په ډاګه بیان کړی دی او فرمايلي یې دي: { الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعاً} النساء: (۱۳۹)

ترجمه:- (منافقان ) هغه کسان دي چې نيسي کافران په دوستۍ سره بغير د مؤمنانو څخه (مؤمنانو سره دوستي نه کوي) آيا لټوي دوی د کافرانو (په دوستۍ کې) عزت ؟ بيشکه عزت الله تعالی لره دی ټول.

يعنې دا منافقان د کفارو او يهودو په ملګرتيا کې عزت او قوت او غلبه لټوي، حال دادی چې ټول عزت او کاميابي د الله تعالی په لاس کې ده او الله تعالی عزت او ذلت ورکوونکی دی.

امام قرطبي ليکي: ( أي الغلبة والقوة لله). تفسير القرطبي (٥/ ٤١٧)

ژباړه:- يعنې غلبه او قوت خاص الله تعالی لره دی.

په يو بل مبارک کې الله جل جلاله فرمايلي دي چې عزت دالله تعالی او د هغه د رسول او دمؤمنانو په ملګرتيا کې دی؛ نه کفارو په ملګرتيا کې. الله تعالی فرمايلي دي: وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لا يَعْلَمُونَ} المنافقون: (٨)

ترجمه:- او خاص الله لره عزت دی (عزت ورکوونکی دی) او د هغه رسول لره عزت دی او مؤمنانو لره عزت دی(د الله د رسول او دمؤمنانو په ملګرتيا کې عزت دی) ، مګر منافقان نه پوهيږي.

حافظ ابن کثير ددې آيت په تفسير کې ليکلي دي: مقصود ددې آيت څخه د الله تعالی عزت غوښتلو ته او د هغه عبوديت ته هڅول دي او ځان دالله تعالی د بندګانو په جمله کې چې مؤمنانو دي منظم کول دي، هغه مؤمنان چې په دنيا او آخرت کې نصرت او کاميابي د هغوی په برخه ده.تفسير ابن کثير (٢/ ٤٣٥)

حقيقي کاميابي په دين کې ده او د الله تعالی سره په تعلق کې ده کوم کسان چې په بې دينۍ کې او د کفارو په دوستۍ کې کاميابي لټوي ، دوی په لويه اشتباه کې لويدلي دي؛ ځکه چې د کفارو سره دوستي دمسلمانانو د کمزورۍ او ناکامۍ سبب ګرځي.

صحابه کرام ځکه د نړۍ کامياب خلک ؤ چې هغوی کاميابي د الله تعالی په دوستۍ او د نيکو اعمال په انجامولو کې ليدله. مونږ او تاسو ګورو چې د خلکو عملونه څومره کمزوري شوي دي جوماتونه شته خو لمونځ کوونکي نشته، چې دلمونځ او جماعت ضائع کول داسې دي لکه دايمان ضايع کيدل. قرآن کريمونه شته خو تلاوت کوونکي نشته،مالونه زيات دي خو څوک خيرات او صدقات نه ورکوي.

خلک د شهوتونو په پوره کولو پسې دي او شهوتونو د خلکو پر زړونو غلبه کړې ده او دعبادت ځای نيولی دی او خلک د شهواتو او نفسي خواهشاتو بندګان جوړ شوي دي او د بدن ټول غړي د نفسي خواهشاتو تابع دي؛ لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:{أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَهَهُ هَوَاهُ}الجاثية:(٢٣)ترجمه:آيا پس وينې ته هغه څوک چې نيولی وي ده معبود خپل خواهش (دنفس) خپل.

هرکله چې مسلمانانو عقيده کمزورې شوه او د الله تعالی کتاب او د پيغمبر سنتو ته يې شا کړه او واحد قيادت يې د لاسه ورکړ او اعمال يې کمزروي شول او په دين يې عمل کول پريښود او په خپلو منځونو کې يې اختلاف وکړ او ډلې ډلې شول ؛ نو مسلمانانو قوت، کاميابي،عزت او عظمت او کرامت د لاسه ورکړ او نن صبا په نړۍ کې تر ټولو کمزوري، ناکامه ، مظلوم، مقهور او په کړاوونو او مصيبتونو هغه مسلمانان اخته شول چې په دين يې عمل کول پريښود.

هر کله چې ددوی عقيده او عمل کمزوری شول، نو ددښمنانو په سترګو کې هم کمزوري شول، کفارو او دښمنانو ته د ژوند په هره برخه کې محتاج شول، د کفري نړۍ غلامي يې پر ځانونو ومنله او د کفارو پيروي يې خپله کړه ، اقتصادي او علمي ميدان کې تر ټولو امتونو وروسته پاتې شول، په خپلو طبيعي زيرمو واک يې د لاسه ورکړ، اقتصادي چارې پرته د کفارو او دښمنانو د مشورې او اجازته مخ په وړاندې نشي بيولی، هر اسلامي ملک د کفارو د بانکونو د سودي پيسو تر مرۍ پورې قرضداره دي. صنعت نلري او د خپل منځي جګړو لپاره جنګي وسائل له کفري نړۍ څخه د ځينو شروطو په منلو سره ورڅخه په پيسو اخلي، په يوه بهانه او بله بهانه باندې يې ځمکه او خاوره د کفارو له خوا اشغال ده او په خپله خاوره او وطن کې په امنيت کې ژوند نشي کولای، هم وژل کيږي او هم په هجرتونو او بې ځای کيدو مجبوريږي ، په نړيوال ستيج د ځان د

پوښتنې واک او اختیار نلري  او د ژوند په ټولو چارو کې کفارو ته محتاج دي چې دا د ذلت اخري حد دی، لکه چې حضرت عمر رضي الله عنه ابو عبیده بن جراح رضي الله ته و فرمایل: (أنا كنا أذل قوم فأعزنا الله بالإسلام فمهما نطلب العز بغير ما أعزنا الله به أذلنا الله) المستدرك للحاكم (١/ ١٣٠)

ژباړه:- مونږ وو ذلیل قوم ، نو الله تعالی په اسلام سره مونږ ته عزت راکړ، هرکله چې مونږ ولټولو عزت پرته د هغه څه نه چې الله تعالی د هغې له امله مونږ ته عزت راکړی دی، الله تعالی به مو ذلیل کړي.

یو ځل سلمان فارسي رضي الله عنه په یوه موقع سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه ته وویل: (إن هؤلاء صادقون مع الله ولذلك أيدهم وسخر لهم البحر كما سخر لهم البر، وأخشى أن يأتي يوم يتخلى فيه المسلمون عن طاعة الله فيتأخر عنهم نصر الله).

ژباړه:- بیشکه داخلک د الله تعالی سره رښتیني دي او دهمدې امله الله تعالی ددوی تایید وکړ او ددوی لپاره یې بحر ورته مسخر کړ لکه وچه یې چې ورته مسخر کړې وه او زه ویریږم ددې نه چې داسې ورځ به راشي چې په هغه ورځ کې به مسلمانان د الله تعالی د عبادت څخه مخ واړوي ، نو د الله نصرت به له دوی څخه وروسته شي.

همدا راز د قبرص د فتحې پر وخت حضرت ابودر داء رضي الله عنه وژړل ، چا ورته وویل: ته په داسې ورځ ژاړې چې الله تعالی په دې ورځ کې د خپل دین نصرت وکړ او په دې ورځ کې یې خپل لښکر ته عزت ورکړ؟ حضرت ابودر داء رضي الله عنه وفرمایل: زه ددې خلکو په حال ژاړم چې دالله تعالی نافرماني یې کړې وه ؛ نو مونږ ورباندې الله تعالی مسلط کړو او زه ددې څخه ویریږم چې داسې ورځ به راشي چې په هغه ورځ کې به تقصیر او کوتاهي کوي دالله تعالی په طاعت کې او مسلط کیږي به پر هغوی د هغوي دښمن.البداية والنهاية (٧/ ١٧٢).

## ۲- د الله تعالی په لار کې د جهاد پرېښودل:

جهاد د اسلام اساسي اصل دي، د جهاد پر مټ مسلمانانو وکولی شول نړۍ ته دنبي علیه السلام پیغام ورسوي، خلک د الله دین ته راوبلي، انسان د بنده له بندګۍ خلاص کړي او د یوه خالق عبادت ته یې راوبولي، جهاد د مسلمانانو د کامیابۍ، قوت او عزت ساتنې تر ټولو ستره وسیله ده، په جهاد سره مسلمانه ټولنه له فساد، ذلت او نورو امراضو څخه ژغورل کیږي،د جهاد په لار کې چې څوک ووژل شي هغه شهید دی او چې روغ راوګرځي هغه غازي او ولي دی، کله چې د زمکې پرمخ جهاد و مسلمانانو پر ټوله نړۍ غلبه لرله، د درې سترو اسلامي خلافتونو د بقاء مهم لامل جهاد و، د جهاد له برکته دین په ټوله نړۍ کې خپور شو او اسلامي شریعت تطبیق شو.که مسلمانان جهاد پرېږدي، د آخرت کارونه پرېږدي او یوازې په دنیایي کارونو مصروف شي، نو له ذلت سره به مخ شي، نبي علیه السلام فرمایي: عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِينَةِ ، وَأَخَذْتُمْ أَذْنَابَ الْبَقَرِ، وَرَضِيتُمْ بِالزَّرْعِ، وَتَرَكْتُمُ الْجِهَادَ، سَلَّطَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ ذُلًّا لَا يَنْزِعُهُ حَتَّى تَرْجِعُوا إِلَى دِينِكُمْ». سنن أبي داود (٣/ ٢٧٤)

ژباړه:- دعبدالله بن عمررضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې ماد رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل:کله چې تاسو په سوداګرۍ بوخت شی، (بیع العینه یو شی په نېټه اخیستلو ته وایی چې په نېټه یې په ګرانه بیه واخلي او بیا یې په ارزانه بیه خرڅ کړي) په مال ټولو بوخت شئ(چې د اسونو سپرلي پرېږدي او په غوایي پسې شئ)،په کښت کاري راضي شئ او فرض جهاد پرېږدئ نو الله تعالی به ذلت در باندې راولي ترهغو به تاسو له ذلت څخه ونه وځئ ترڅو چې مو بېرته خپل دین ته رجوع نه وي کړې.

دغه راز دجهاد ستر هدف د عقیدې حریت او د دیني شعائرو ساتنه ده، د مسلمانانو لپاره ازمایښت، روزنه او اصلاح ده، د کافرانو په زړونو کې وېره اچوي، ذلیله کوي یې او دسیسې یې له منځه وړي، منافقین افشا کوي،دکافرانو دیرغلونو مخه نیسي او بالاخره د جهاد په مټ د ځمکې پرمخ د الله تعالی نظام رامنځته کیږي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې او له هغه څخه وروسته مسلمانانو د الله تعالی په لار کې جهاد د دنیا او د آخرت

د کامیابۍ یواځنی لار ګڼله او د همدې عقیدې په اساس د الله تعالی په لار کې د ځانونو، اولادونو، مالونو او ټول ژوند څخه تیر ؤ.
د هغه وخت مسلمانان داسې خلک ؤ چې کله به د جهاد د تللو وسائل ورته میسر نه شول، نو د جهاد سره د علاقي له امله به یې ژړل.الله تعالی فرمایلي دي:{وَلاَعَلَى الَّذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لاَأَجِدُمَاأَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ تَوَلَّواْ وَّأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا أَلاَّ يَجِدُواْ مَا يُنفِقُونَ} التوبة: (۹۲)
ترجمه:- او نشته (ګناه په پاتې کېدلو له غزا نه) په هغو کسانو کله چې راغلل دوی تاته لپاره ددې چې سورلۍ ورکړې ته دوی ته نو وویل تا ورته چې نه مومم زه (هم اوس) هغه شی چې سواره کړم تاسې په هغه نو بېرته وګرځېدل دوی حال دا چې سترګې ددوی بهېدې (یعنی تویولې) له اوښکو له جهته دغمه له دې وجې چې نه مومي دوی هغه څه چې ولګوي (په جهاد کې). د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کې به مسلمانانو ته د غزواتو څخه وروسته پاتې کیدل نه ښېښونکي ګناه ښکاره کیدله، هغه کسان چې له جهاد څخه وروسته پاتې شوې وو چې خلکو ورسره خبرې کول بندې کړی وې لکه کعب بن مالک ، هلال بن امیه او مراره بن ربیعه رضي الله عنهم چې د تبوک غزوې څخه وروسته پاتې شوي ؤ ؛ خلکو ورسره مقاطعه کړی وه.
د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وخت مسلمانان، د ابن کثیر په تاریخ کې راغي چې صحابه کرام (رهبان بالليل و فرسان بالنهار). ژباړه: د شپې راهبان او د ورځې سپاره (یعنې جهاد کوونکي)خلک ؤ.د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وخت مسلمانانو خوراک به خرما او اوبه وې او په ځینو غزواتو کې به لوڅې پښې وتل لکه د ذات الرقاع غزوه کې ؛ خو زبر ځواکونه او کفري امپراطورۍ به یې له هیبت او ایماني قوت څخه تل په ویره کې ؤ.مخکني مسلمانان داسې خلک ؤ چې په جامو کې به یې بې شمیره ټوټې وې ، خو دښمن به یې د ویرې لړزیده.
د صحابه کرامو او زمونږ د اسلافو تاریخ د عظمت، عزت او برم څخه ډک دی ، وجه داده چې هغوی ایمان د زړه له تله منلی ؤ او چې په کومه کلمه یې تلفظ کړی ؤ ، د هغې کلمې ټولې تقاضاوې او غوښتنې یې په سمه توګه په ځانونو عملي کړې وې، دنیا او ددنیا متاع د هغوی په ژوند کې هیڅ ارزښت نه درلود.
که چیرې مونږ داسلام ځلانده تاریخ ته مراجعه وکړو، نو د مسلمانانو تاریخ له عزت، عظمت او داسلام په لار کې د قربانیو څخه ډک دی. د مسلمانانو د عظمت یو مثال دادی چې یو ځل په یوه جګړه کې سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه ربِعي بن عامرٍ -رضي الله عنه- په زړو او شکیدلو جامو کې د فارسیانو سرلښکر رستم ته ور ولیږه. رستم ورته وویل: تاسو څوک یاست؟ حضرت ربِعي رضي الله عنه ورته په ډېر فخر او غرور سره وویل:مونږ هغه قوم یو چې الله تعالی ددې لپاره رالیږلي یو ، ترڅو را وباسو بندګان د بنده له بندګۍ څخه د بندګانو د رب بندګۍ ته او راوباسو بندګان د ادیانو له ظلم څخه د اسلام عدالت ته او ددنیا له تنګسۍ څخه د دنیا او آخرت پراخۍ ته ، نو څوک چې زمونږ خبره ومني ، مونږ هم د هغه خبره منو او ورڅخه ګرځو او څوک چې زمونږ او د خلکو ددعوت ترمنځ خنډ واقع شي له هغه سره مونږ تر هغه جنګ کوو؛ ترڅو چې د الله تعالی وعدې ته ورسیږو. رستم ورته وویل: د الله وعده څه شی دی؟ ربِعي ورته وویل: څوک چې مړشي د هغه لپاره جنت دی او څوک چې پاتې شي د هغه لپاره فتح او کامیابي ده.تاريخ الأمم والرسل والملوك- الطبري (۲/ ٤٠١)
که چیرې د ربِعي بن عامررضي الله عنه جرأت ، په ځان باور او قوي خطاب ته متوجه شو ، پوهیږو چې دا هرڅه د رب العزت له طرفه ؤ، چې تر ټولو کمزورۍ انسان یې ددین په وجه تر ټولو قوي شخص وګرځولو.
مخکني مسلمانان داسې خلک ؤ چې کله د هغوی په زړونو کې د الله تعالی ویره وه او د قرآني هدایاتو تابع ؤ او دایې خپل مسئولیت ګڼلو چې جهاد یو مقدس هدف دی او د عزت او برم راز په کې نغښتی دی، نو ددې احساس په درلودلو سره الله تعالی هغوی ته انسانان، ځنګلي حیوانات،بحر او وچه هرڅه مسخر کړی ؤ او الله تعالی ورته عزت او کرامت ورکړی ؤ او پر ټولو قومونو او امپراطوریو کامیاب ؤ،هغوي به په بحر به تیریدل؛ خو د آسونو سومان به یې نه لامده کیدل، لکه حضرت علاء بن الحضرمي چې د څلورو سوو کسانو سره بحرین ته ولیږل شو ، هغه دخپلو ملګرو سره د اوبو په سر تیر شو(قال أبو

هريرة فمشينا على الماء فوالله ما ابتلت قدم ولا خف بعير ولا حافر دابة وكان الجيش أربعة آلاف) كرامات الأولياء اللالكائي(ص: ١٥٠)
ابوهريره رضي الله عنه وايي چې مونږ په اوبو تيرشو او قسم په الله چې لوند نشو کومه پښه او نه خپره د اوښ او نه خنگرى د حيوان او د لښکر تعداد څلور زره ؤ. د غره ليوان او ځناور به ورسره مخ شول د هغوى د خوړلو پرځاى به يې هغوى ته لاربښوونه کوله لکه د رسول الله صلي الله عليه وسلم غلام مهران چې په سفينه رضي الله عنه مشهور ؤ واقعه،هغه يوځل په بحرکې سفرکولو ،کشتۍ ور باندې ماته شوه او هغه بحر ساحل ته واچولو، يو زمرى ورسره مخامخ شو.هغه ورته وويل:اى زمريه! زه سفينه د رسول الله صلى الله عليه وسلم غلام يم ، نو هغه زمري ورته لار ور وښودله).سير أعلام النبلاء (٣/ ١٧٣)
هرکله چې مسلمانانو جهاد ته شا کړه ، قوت ، کاميابي او عظمت يې له لاسه لاړل او د نړۍ رهبري او قيادت يې د لاسه اوس د يونيم ملیارد مسلمانانو څخه د ٨ ميلونو کفارو سترگه نه سوزي او د دښمن په سترگو کې ذليله دي ، دا بيا هغه حالت دى، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې يادونه کړى وه او فرمايلي يې ؤ: عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « يُوشِكُ الأُمَمُ أَنْ تَدَاعَى عَلَيْكُمْ كَمَا تَدَاعَى الأَكَلَةُ إِلَى قَصْعَتِهَا ». فَقَالَ قَائِلٌ وَمِنْ قِلَّةٍ نَحْنُ يَوْمَئِذٍ قَالَ « بَلْ أَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ كَثِيرٌ وَلَكِنَّكُمْ غُثَاءٌ كَغُثَاءِ السَّيْلِ وَلَيَنْزِعَنَّ اللَّهُ مِنْ صُدُورِ عَدُوِّكُمُ الْمَهَابَةَ مِنْكُمْ وَلَيَقْذِفَنَّ اللَّهُ فِى قُلُوبِكُمُ الْوَهَنَ ». فَقَالَ قَائِلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا الْوَهَنُ قَالَ « حُبُّ الدُّنْيَا وَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ ». سنن أبى داود-ن (٤/ ١٨٤)
ژباړه:- زر دى چې امتونه به يو بل رابولي پرتاسې باندې (ستاسې د وژلو او ستاسې د ملکيتونو د لوټولو لپاره) لکه خوراکيان چې کاسې ته يو بل راوبولي (د خوراک لپاره) يو چا وويل:آيا مونږ به کم يو په دغه وخت کې(چې دوى پرمونږ راټوليږي دجنگ لپاره) ؟ نبي عليه السلام وويل: بلکې تاسي به په دغه وخت کې زيات ياست، لاکن تاسې به ځگ ياست په شان د ځگ د سيلاب (يعنې چې د سيلاب په سره روان وي) او خامخا وبه باسي  الله ستاسې ددښمن د زړونو څخه ستاسې هيبت او ويره او وابه چوي الله تعالى ستاسو په زړونو کې وهن (کمزوري). يو کس وويل اى د الله رسوله! وهن څه شى دى؟ نبي عليه السلام وفرمايل: ددنيا محبت او دمرگ بد گڼل.يعنې اوس الله تعالى ستاسو هيبت او ويره ستاسو ددښمن په زړه کې اچولى ده اوتاسې شهادت او دالله تعالى په لاره کې مرگ خوښ گڼۍ،په هغه وخت کې به الله تعالى ستاسې هيبت ستاسې ددښمن د زړه نه وباسي؛ځکه چې تاسې به ددنياسره محبت کولو ته ترجيح ورکوئ او دالله تعالى په لاره کې مرگ به درته بد معلوميږي.
نن مسلمانان د نفوذ او تعداد له پلوه د نړۍ ستر قوت دى، او په (٥٧) اسلامي هېوادونو کې په مليونونو مسلمانان ژوند کوى، پر ځينو اسلامي هېوادونو کفارو يرغلونه کړي دي، پر مسلمانانو بې دريغه ظلمونه کوي او هره ورځ په لسگونو ماشومان، تور سري، بوډاگان او ځوانان شهيدانوي، خو بيا هم خوک د جهاد غږ نه پورته کوي، ډيرى مسلمانان داسې انگېري لکه جهاد چې د تېري زماني يو حکم و او اوس منسوخ شوى وي، ترڅو چې مسلمانان د کفارو او اسلام دښمنو قوتونو په ضد له جهاد څخه کار وانخلي تر هغو به مسلمانان همداسې مغلوب وي.

## ٣- د واحد قيادت او رهبرۍ نشتوالى:

کله چې د مسلمانانو عثماني خلافت د کفارو په لاس ونړول شو او له منځه لاړ ؛ نو د همدغې ورځې څخه وروسته مسلمانان نور هم کمزروي شو او ددښمن په لومو کې ولويدل. يو ستر نعمت چې مسلمانان ورڅخه بې برخي دي، هغه داسلامي نړۍ لپاره د واحد قيادت نه شتون دى او په ديني او سياسي و نظامي ډگرونو کې د ښۀ قيادت نشتوالى د مسلمانانو دناکامۍ مهم لامل دى. ددوهمې نړيوالې جگړې څخه وروسته د نړۍ کفار او زبرخواکونو مسلمانان په جزيرو  او کوچنيو کوچنيو دولتونو وويشل او پر دوى باندې يې خپل لاس پوځي غلامان مقرر کړل، چې د هغه ټاټوبي د مسلمانانو د خدمت پر ځاى د مسلمانانو کنترول او برمته کول د هغوى اصلي دنده ده.دغه مسلط شوي غلامانو دنده داده چې مسلمانان خوار او ذليله

وساتي او داقتصادي زیرمو واک او اختیار د کفري نړۍ په لاس کې ورکړي او که څوک د کفري نړۍ پر خلاف له خولې کومه خبره وباسي باید هغه ووژني او یا یې د تورو تمبو تر شا وساتي.

**٤- پر دښمن خوش باوري:**

په ننۍ نړۍ کې د زیاتره اسلامي هېوادونو مشران له غربي قوتونو سره ښکاره او پټې اړیکي لري او پر غربي واکمنانو ډېر خوشباوره دي، د دوی له ماده پرستي مفکورې څخه تر اغېز لاندې راغلي دي، آن کله کله خو د خپل مسلمان ولس د ځپلو لپاره هم له دوی مرسته وغواړي، دغه راز د اسلامي نړۍ زیاتره ځوانان په ځانګړې توګه د شتمني طبقې خلکو اولادونه په لوېدیځ کې زده کړې کوي او یا د کاروبار لپاره هلته سفرونه کوي او بیا د غرب له ظاهري ښکلا څخه تر اغېز لاندې راځي.

د دې لپاره چې مسلمانان د دښمن تر اغیز لاندې رانشي باید د اسلام له واقعي تاریخ څخه ځان خبر کړي،مسلمان باید په دې پوه وي چې د غرب اوسنی پرمختګ د اسلامي علومو له برکته دی او باید د کتاب الله او سنت رسول په رڼا کې او له خپل پخواني تاریخ څخه په ګټه اخیستلو له خپلو فکري او علمي پانګو څخه په ښه توګه استفاده وکړي -

او په اسلامي لارښوونو په سهي توګه عمل وکړي، د دښمن هر ډول سیاسي اقتصادي او بشري قوانینو باندې باید خوشباوره نه وي، د دښمن هر پلان په ځېرکتیا او معقوله توګه وڅېړي او پر دښمن د یوازې خوشباوري پرځای په هر پلان کې دقیق او معقول سوچ وکړي او له لوېدیځ سره د متقابل احترام تر قانون لاندې پالیسي پرمخ بوزي نه د ړانده تقلید او خوش باوري پر اساس.

**٥- د نفسیاني خواهشاتو او شهوتونو پیروي کول:**

د نن وخت مسلمانان د نفسي خواهشاتو، منکراتو، ګناهونو او معاصیو پسې ګرځي او نور خلک منکراتو ته دعوتوي هم په قول هم په فعل سره او د اطاعت څخه حرامو شهواتو او نفسي خواهشاتو ته میلان کوي لکه زنا، د شرابو څښل ، د سندرو او سازونو اوریدل او د ښځو اختلاط ته دعوت کوي او د ښځو تبرج او سفرونه کول او د خاوندانو له اجازې پرته له کورونو ووتل او د زنا دواعي ترسره کول.

کومو مسلمانانو چې له ګناهونو او نفسي خواهشاتو له پیروۍ څخه ځانونه ساتل هغوی تل کامیاب او قوي خلک ۋ.

داچې د ګمراهۍ او ګناهونو وسائل او اسباب په اوسنۍ نړۍ کې د بل هر وخت څخه زیات دي، نو ځکه د مسلمانانو بالخصوص ځوان نسل مخه ګناهونو ته کړی ده او د ګناه مواقع دومره میسره شوي دي چې په بل وخت کې په دې اندازه او کیفیت سره نه وی، بناءً د مسلمانانو دینداري او مسلمانې کمزوری شوه او سرکشي او طغیان یې زیات شوی دی ، نو هغه ایماني قوت یې هم له منځه تللی دی چې د مخکنیو مسلمانانو سره ۋ. په همدې اساس ددښمنانو په مقابل کې هم کمزوري شو او ناکامه شو.

**٦- داسلامي امت ترمنځ د وحدت نه شتون:**

په نن عصر کې د مسلمانانو تر ټولو لویه ستونزه د نړیوال اسلامي وحدت نه شتون دی، مسلمانان د نړۍ په کچه نه سیاسي وحدت لري، نه پوځي او نه هم اقتصادي، دوی د خپلمنځي اختلافونو له امله د نړۍ په هره برخه کې د دښمن تر ظلم او وحشت لاندې دي، د زیاتره اسلامي هېوادونو واکمنان د خپلو محدودو ګټو ترلاسه کولو لپاره د مسلمانانو له دښمنانو سره اړیکي ټینګوي، د غربي قوتونو د ګټو په خاطر مسلمانان وژني او هېوادونه یې ورانوي چې افغانستان، عراق ، سوریه او فسلطین یې ښکاره مثالونه دي. د دې ستونزي یوازینی حل دا دی چې مسلمانان په پټه او ښکاره متحد شي، او داسې وګني چې مسلمانان یو امت دی او ټول اسلامي هېوادونه داسې دي لکه د یوه بدن غړي، ټول اسلامي ملتونه په هره ژبه او هر رنګ چې دي باید د مسلمانانو د وحدت لپاره انفرادي او اجتماعي کار وکړي، علماء، پوهان، شاعران، ادیبان او

ژورنالیستان باید په دې اړه پوره کار وکړي، او د مسلمانانو یو والی تر بل هرشي مهم وګڼي؛ ځکه که چیرې مسلمانان متحد وي ، نو ټول به ژوندي وي او که بیل وي نو دښمن به یې د لیوانو په څېر یو په بل پسې تر ژامو لاندې کوي، په هر مجلس او ځای کې باید د دې فکر لپاره کار وشي چې د مسلمانانو خپلمنځي اختلافونو ګټې یوازې دښمنانو ته رسیږي مسلمانانو ته یې هیڅ ګټه نشته، که په اخلاص کار وشي الله تعالی به مسلمانان په نړیواله سطحه د یو اسلامي سیاسي، پوځي او اقتصادي وحدت څخه برخمن کړي او یو ځل به بیا د یو نړیوال قوي ځواک په شکل راښکاره شي.

داسلامي امت او مسلمانانو کمزوري او ناکامې ددوی ترمنځ د شخړو،اختلافونو او بدبختیو له امله رامنځ ته کیږي.الله تعالی فرمایلي دي:{وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَلاَ تَنَازَعُواْ فَتَفْشَلُواْ وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُواْ إِنَّ اللّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ} الانفال: (٤٦)

ترجمه:-او حکم ومنئ تاسې د الله او د رسول د دغه الله او مه کوئ جګړه په خپلو منځونو (په کار د جهاد کې) پس بې زړه به شئ تاسې او لاړ به شي باد(دنصرت او قوت او د دولت)ستاسې او صبرکوئ (قتال او سختیو)بشکه الله له صابرانو سره دی (په جنګ کې په نصرت او حفاظت).

**توضیح:**-په پورتني مبارک آیت کې الله تعالی دمسلمانانو په خپل منځ کې د اختلاف، نزاع په نتیجه کې وایې چې په دې کار سره ستاسې قوت او دولت او هیبت له منځه ځي او د ستاسې دکمزورۍ سبب ګرځي.امام مجاهد رح وایي: (الريح والنصرة والقوة).تفسير البحر المحيط (٤/ ٤١١) د الریح څخه نصرت او قوت مراددی.

**٧- په عصري علومو کې کمزوري:**

کله چې اسلامي زده کړې او تعلیمي نظام په عصري او دیني طبقو نه ؤ ویشل شوی ؛نو اسلامي مدارسو به ټولنې ته په هر فن کې لوی لوی پوهان او علماء تقدیمول او د اسلامي مرکزونو څخه به د امام رازي، خوارزمي، ابن رشد، ابن سینا، البیروني، فارابي ابن الهیثم، ابوبکر رازي او ابن خلدون په څېر زرګونه داسې فیلسوفان او ساینس دانان فارغیدل، چې هم به په دین ښه پوهېدل او هم د معاصري نړۍ بې مثاله فیلسوفان ول، د نن عصر مسلمانانو کې تکړه او ما هر خلک ډېر کم پیدا کیږي او کمه اندازه خلک په خپل ذوق او انفرادي کوښښونو څۀ ناڅه مهارت ترلاسه کړي، خو هغه بیا د لوېدیځ د بې دینه فلسفې او چاپېریال تر اغېز لاندې راغلي وي، او کوم کسان چې د عصري او ساینسي مرکزونو څخه فارغیږي تر ډېره له دیني علومو سره نابلده وي، زیاتره وخت د دښمن په لاس کې ولوېږي او هغوی یې په غیر شعوري توګه د خپلو ګټو لپاره وکاروي. د مسلمانانو یوه حتمي اړتیا دا ده چې په خپلو سېمو کې داسې معیاري تعلیمي ادارې جوړې کړي چې د عصري علومو ترڅنګ دیني علوم هم په کې تدریس شي، او د وخت او حالاتو له اړتیاوو سره سم هر مسلمان لږ تر لږه په روان وضعیت خبر وي او د دې ترڅنګ مسلمانان باید په هره سېمه کې د عصري علومو متخصصین ولري، خو مسلمانان چې د دنیاوي علومو په هره برخه کې زده کړې کوي باید د خپل دین له ضروري علومو سره اشنا وي.

**٨-د پر مختللو وسلو او نوې ټیکنالوژۍ نشتوالی:**

په کائناتو کې د الله تعالی تګلاره دا ده چې د انسانانو ترمنځ د تفوق او برلاسي یو مهم لامل دنیاوي وسائل دي، چې یو ځوک قوي ځواک او وسائل ولري، کولی شي پر خپل رقیب برلاسی شي، له دې وسائلو څخه مهم یې وسلې او نوې ټیکنالوژي ده، د وسلو په مټ انسان کولی شي پر نورو خلکو واکمني وکړي، خپله داعیه تر نورو ورسوي. د اسلام یو مهم رکن جهاد دی، کله چې دښمن له اسلامي دعوت منلو څخه انکار وکړي؛ نو لومړی به ورڅخه د جزیې اخیستلو غوښتنه کیږي او بیا به یې پر وړاندې د جهاد پیلیږي. د بشري پرمختګ او برلاسي لپاره په هره زمانه کې پرمختللي وسائل او

ټیکنالوژۍ کارول کیږي، د وخت او حالاتو سره سم ډول ډول وسائل جوړیږي ، په نن عصر کې د مسلمانانو د کمزورۍ او ناکامۍ یو ستر لامل دا دی چې په عصري وسلو او نوې ټیکنالوژۍ کې وروسته پاتې دي، یو وخت چې مسلمانانو د نړۍ په سطحه قوي ځواک او ټیکنالوژي لرله، هغه مهال دښمن نشو کولی د اسلامي نړۍ پولو ته را داخل شي او یا د نړۍ په یوه برخه کې کوم مسلمان ته زیان ورسوي، اوس چې مسلمانانو پرمختللې ټیکنالوژۍ پرېښې ځکه دښمن ور باندې برلاسی دی. الله تعالی مسلمانان هڅولي دي چې د زمان او مکان له حالاتو سره سم او د جدیدو وسائلو په مټ د دښمن په وړاندې پوره استعداد او اعداد ولري، او د هر ډول وسائلو په وړاندې له پرمختللو وسائلو څخه کار واخلي، جوړې یې کړي او له دښمن سره مقابله وکړي. الله تعالی فرمايي: {وَاَعِدُّوا لَهُمْ مّااستَطَعْتُمْ مِنْ قُوّةٍ وَمِنْ رِباطِ الخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِه عَدُوّاللّهِ وَعَدُوّكُم }الانفال: ٦٠]

ترجمه:- او تیاورئ (ای مؤمنانو!) لپاره د جنګ د دغو (ماتوونکو د عهد یا دمطلق کفارو) څومره چې توانېږئ (جمع کولی شئ) تاسې له قوت اسباب د جنګ او له روزل شوو ساتل شوو آسونو (لپاره د جهاد) چې وېروئ تاسې په دغه (قوت او تیارۍ) سره دښمنان دالله او دښمنان ستاسې . د لومړي ځل لپاره په اسلامي غزواتو کې (منجنیق) مسلمانانو استعمال کړی دی چې د هغه وخت پرمختللی سلاح وه.

په اسلامي تاریخ کې راځي چې د لومړي ځل لپاره اسلامي بحري جنګي بیړۍ مسلمانانو جوړې کړی او ددښمن په مقابل کې یې ورڅخه کار اخیسته. زغرې جوړول د داوود علیه السلام کسب ؤ او په جنګونو کې به یې ورڅخه استفاده کوله.

**۹- اقتصادي ضعف:**

د اسلامي نړۍ جغرافیه د خدای ورکړو زېرمو له پلوه ډېره بډایه او له پرېمانه وړیا نعمتونو څخه برخمنه ده، د نړۍ تر ټولو قیمتي زېرمې د مسلمانانو په خاوره کې دي او مهم تجارتي بندرونه، سمندري او ځمکنۍ لارې د مسلمانانو پر جغرافیه تېر شوي دي، مګر بیا هم مسلمانان د غربي نړۍ تر محاصرې لاندې دي، او سودي راکړې ورکړې، فساد او رشوت اخیستنو اسلامي نړۍ تباه کړه. له دې بد حالت څخه د وتلو لاره داده چې مسلمانان له ټولو ناروا اقتصادي نظامونو ځان خلاص کړي، د عوائدو ناروا لارې بندې کړي، سودي نظام له منځه یوسي او د اسلامي بانکوالۍ نظام خپل کړي او زکاتونه، صدقات او خیراتونه په سمه لاره کې مصرف کړي، د معیاري اسلامي بانکوالۍ نظام نه یوازې دا چې خپل یې کړي؛ بلکې نړۍ ته یې د یو مثالي نظام په توګه وړاندې کړي.

د اسلامي هېوادونو چارواکې باید په اسلامي نړۍ کې تر خاورو لاندې زېرمې د اغیارو له لاسونو وباسي او پخپله د دې زېرمو د را ایستلو او کارولو لپاره په ګډه یوه قوي لائحه جوړه کړي، د دې لپاره لومړی او اړین اقدام دا دی چې په اسلامي هېوادونو کې د بهرنیو تجارتي او خدماتي کمپنیو کارونه محدود کړل شي، سبمه ایزو مصنوعاتو ته مخه ورکړل شي او د هر کار لپاره مسلکي او ماهرین خلک تیار کړل شي، له دنیا سره د بې حده مینې نظریه ماته کړل شي، ترڅو اسلامي نړۍ پر خپلو عوائدو تکیه شي او د مسلمانانو رهبران د ټولې اسلامي نړۍ د یو موټي کولو او یوې نړیوالې قوي اقتصادي اتحادیې د جوړولو لپاره د زړه له تله کار وکړي.

**والسلام علیکم**

**أقول قولي هذا، استغفرالله لي ولكم ولسائر المسلمين**